زما په مدحه او توصيف کې تاسو له حد څخه مه اوړئ، لکه څرنګه چې نصارا د عيسى زوی د مريمې په مدحه او توصيف کې له حده اوړيدلي وو؛ بېشکه چې زه د هغه بنده يم، نو تاسو ووايئ: د الله بنده او رسول

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل چې ويل يې: «زما په مدحه او توصيف کې تاسو له حد څخه مه اوړئ، لکه څرنګه چې نصارا د عيسى زوی د مريمې په مدحه او توصيف کې له حده اوړيدلي وو؛ بېشکه چې زه د هغه بنده يم، نو تاسو ووايئ: د الله بنده او رسول».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په مدحه او توصيف بيانولو کې له مبالغې او شرعي حدودو له اوړيدلو څخه منع کړې ده، چې څوک يې د الله تعالى په صفتونو او يا ځانګړو افعالو سره ياد کړي، او يا دا چې - باور ولري - په غيبو پوهيږي، او يا دا چې له الله سره رابلل کيږي، لکه څرنګه چې نصاراوو د عيسى زوی د مريمې عليهما السلام په حق کې کړي وو. بيا يې واضحه کړه چې هغه د الله له بنده ګانو څخه يو بنده ده، او امر يې وکړ چې په اړه يې ووايو: د الله بنده او رسول دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3406